ډاکټر محمدآجان مرزی ۲۰۱۶/۰۴/۱۸

# د پانامې سندونه او له مالیاتو تېښته

## مقدمه:

د روان میلادي کال د اپرېل د میاشتې په درېمه نېټه په پانامې کې د آف شور Off Shore یا له ساحل لېرې شرکتونو په اړه د موزاک فونسېکا (Mossack Fonseca) په نامه د یوه حقوقي شرکت د اسنادو لومړۍ برخه چې د ژورنالستونو په ځانګړې توګه د آلمان د زود دوچې څایتونګ د ورځپاڼې د ژورنالستانو د تحقیقي کار په نتیجه کې تر لاسه شوي وو، خپره شوه. دې سندونو د ټولې نړۍ په سیاسي او اقتصادي کړیو کې یوه لویه رسواېي رامنځته کړه. دا ټول ۱۱،۵ میلیونه سندونه دي چې بېلابېل ډولونه لري، لکه برېښنالیکونه، مکتوبونه، قراردادونه او داسې نور. په دې سندونو کې د بانکونو، تصدیو، سیاستوالو او د سپورټ له نړۍ څخه د وګړو نومونه شامل دي، چې خپله شتمنې او یا پانګه یې په آف شور شرکتونو کې پټه ساتلې وه (شپیګل آن لاین، ۲۰۱۶).
زه به په خپله دې لیکنه کې زیار وباسم چې د آف شور شرکتونو د ماهیت په هکله او دا چې په څه ډول او د کومو موخو له پاره رامنځته کېږي، رڼا واچوم. دا به هم روښانه کړم چې د دې سندونو پاڼلې به هېوادونو، پانګوالو، سیاستوالو او د بډایو وګړو له پاره په څه ډول وي. په دې اړه به دې خبرې ته هم اشاره وکړم چې آیا په آف شور ځایونو کې د شرکتونو جوړول هرو مرو یو د قانون ضد کار دی او که نه او دا چې ولې شرکتونه او پانګوال خپله پانګه او نورې شتمنۍ په دې ځایونو کې ساتي؟

## لنډیز:

آف شور شرکتونه په ځینو ټاپوګانو او هېوادونو کې چې د آف شور مرکزونو په نامه یادېږي د بانکونو او حقوقي ادارو له خوا د شرکتونو او منفردو بډایو وګړو په غوښتنه تأسیسېږي. پانګوال او شتمن خلک زیار باسي چې د دې شرکتونو په مرسته خپله پانګه او یا شتمنې پټه وساتي. که دا شتمنې په اصلي هېواد کې په قانوني توګه ترلاسه شوي وي او مالیه یې ورکړ شوي وي، نو په وړاندې یې کوم قانوني خنډ موجود نه دی، په بل عبارت غېرقانوني کار نه دی. خو تجربو ښودلې ده چې پانګوالو، شتمنو وګړو او سیاستوالو په تېره کې له دې لارې زیار باسلی دی چې له مالیاتو تېښته وکړي، خپلې تورې پیسې سپینې کړي او په ځینو حالاتو کې له دې لارې د ځینو هېوادونو او شرکتونو په وړاندې له اقتصادي بندیزونو هم سرغړونه وشي.
د هېوادونو د مالیاتو او له نورو مالي قوانینو څخه د سرغړونې پر مهال، کله چې دا ډول معاملې کشف شي، تورن ته د نافذو قوانینو پر بنسټ جزا ورکول کېږي، خو باېد ووېل شي چې په زیاتو حالاتو کې د دا ډول معاملو ترسره کول د آف شور شرکتونو په چوکاټ کې ډېره پېچلې بڼه لري او کشفول یې آسان کار نه دی. دا ډول اعمال هېوادونو ته اقتصادي، سیاسي او ټولنیز تاوانونه رسوي. له همدې کبله، په ځانګړې توګه پرمختللي هېوادونه، له کلونو راپدې خوا په دې هڅه کې دي چې مخنیوی ترینه وکړي. په دې اړه تراوسه یوازې نسبي پرمختګونه تر لاسه شوي دي. د دې یو لامل هم دا دی چې ځینې هېوادونه یا انفرادي عمل کوي او یا دا چې دا ډول معاملې په جدي توګه نه تعقیبوي او یا د دې دندې د ترسره کولو له پاره پوره مسلکي ظرفیتونه نه لري.

## د آف شور مرکزونو او شرکتونو ماهیت او جوړښت:

آف شور مرکزونه ځینې ټاپوګانو او هېوادونو ته وېل کېږي چې له اصلي هېوادونو لېرې پراته دي، په کومو کې چې له ټولو د مخه مالیات یا موجود نه دي او یا یې کچه ډېره ټیټه ده او د اصلي هېواد قوانین پکې اعتبار نه لري او په دې توګه هم له جغرافیایي او هم حقوقي پلوه له اصلي هېوادونو څخه لېرې هېوادونه او ټاپوګان دي، لکه هانکانګ، د کایمان، وېرجین او برمودا ټاپوګان او داسې نور. دا ځایونه د مالیاتو د نشتوالي او یا ټیټې کچې ترڅنګه لاندې مشخصې هم لري:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

•د بانکی او مالی اسرارو ساتل،
• د محاسبې د مکلفیتونو ټیټه کچه،
• د بانکونو د څارنې او تفتیش ټیټه کچه،
• د نړیوالو مالي او بانکي مقرراتو په پام کې نه نیول،
•د شرکتونو د تأسیسولو آسانتیاوې او کم لګښت،
• د تش په نامه مدیرانو له خوا د شرکتونو اداره،
•په سندونو کې د اصلي شرکت د مالک نوم پټ ساتل،
•او په دې توګه د پیسو او نورو شتمنیو پټول.

آف شور شرکتونه د منفردو پانګوالو، بډایو وګړواو شرکتونو له خوا په آف شور سیمو کې پرانستل کېږي. دا کار د بانکونو او حقوقي شرکتونو په مرسته ترسره کېږي او د اداري له پاره یې یو تش په نامه مدیر هم د حقوقي ادارې له خوا ټاکل کېږي. د شرکت مالک په خپل وار له بانک څخه د شرکت تر نوم یو کریډېټ کارت ترلاسه کوي چې په مرسته یې خپلو پیسو ته لاسرسی پیدا کولای شي. د تأسیس شوي شرکت په هیڅ یوه سند کې د شرکت د مالک نوم نه درجېږي. په دې توګه له مربوط بانک او مربوطې حقوقي ادارې پرته هیڅ څوک نه پوهېږي چې نوموړی شرکت د چا دی.
لکه مخکې چې یادونه وشوه د دا ډول شرکتونو تأسیسول په عمومي توګه کوم د قانون ضد عمل نه دی، په دې شرط چې په سندونو کې له قانون سرغړونه موجوده نه وي او اصل یا د مبدا شرکت د هغو پیسو مالیه چې آف شور شرکت ته انتقالېږي، په خپل هېواد کې ورکړې وي. اوس مهال په نړۍ کې شا و خوا ۱۸۵ آف شور مرکزونه موجود دي چې په نړېوالو مالي چارو کې یو مهم رول لوبوي. هره ورځ په دې مرکزونو کې د کابو درې بیلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت پیسې معامله کېږي. د دې معاملو زیاته برخه قانوني بڼه لري. له همدې کبله تر اوسه څرګنده شوې نه ده چې آیا د پانامې سندونو ترشا له مالیاتو او نورو قوانینو سرغړونې موجودې دي او که نه. د دې اسنادو څېړل به یوه اوږده موده په بر کې ونیسي.
په اکثر حالاتو کې کله چې پیسې او نورې شتمنۍ آف شور مرکزونو ته انتقالېږي، نو موخه یې له ټولو د مخه له مالیاتو تېښته او د تورو پیسو سپینول وي. په دې ځای کې باېد له مالیاتو تېښته او د کمو مالیاتو ورکول له یوه او بله بېل کړای شي. له مالیاتو تېښته یو جرمي عمل او د کمو مالیاتو د ورکونې موخه یو قانوني عمل دي. په لومړي سر کې به وګورو چې شرکتونه په څه ډول د آف شور شرکتونو په مرسته له مالیاتو تېښته کوي او تورې پیسې سپینوي.
په دې ځای کې د موضوع د روښانولو له پاره له مالیاتو څخه د تېښتې څو بېلګې په ګوته کوم. کله چې په هېواد کې د ننه یو شرکت له بهر څخه محصولات ترلاسه کوي، نو دا کار د خپل آف شور شرکت له لارې عملي کوي. له هغې وروسته د ده آف شور شرکت د صورت حساب مبلغ زیاتوي او په هېواد کې د ننه شرکت ته یې لېږي. په دې حالت کې په هېواد کې د ننه شرکت له اصلي مبلغ څخه زیاتې پیسې خپل آف شور شرکت ته حواله کوي. په دې توګه د اصلي مبلغ او نوي مبلغ تر منځ توپیر هغه پیسې دي چې د لګښت په توګه معامله کېږي، په داسې حال کې چې دا لګښت تقلبي دی، د کورني شرکت ګټه کموي او په دې توګه د دې برخې مالیه مالي ادارو ته نه ورکول کېږي.
شرکتونه له دې لارې د خپلو توکو او خدمتونو د خرڅلاو پر مهال هم د مالیې له ورکولو تېښته کوي. په دې حالت کې په هېواد کې د ننه شرکت صورت حساب د خپل اصلي مشتري په نوم نه، بلکې د خپل آف شور شرکت په نوم لیکي. په دې ځای کې د صورت حساب مبلغ له اصلي مبلغ څخه ټیټ لیکل کېږي. له دې وروسته د ده آف شور شرکت د معاملې اصلي مبلغ په خپل صورت حساب کې درجوي او پېرودونکي ته یې ورلېږي. په دې ځای کې بیا هم د ټیټې بیې او اصلي بیې تر منځ توپیر د اصلي شرکت په آف شور شرکت کې پاته کېږي، پرته له دې چې مالیه پې لګول شوي وي.
د دې تر څنګه آف شور شرکت کولای شي چې د حقوقي او سوداګریز مشاورو په توګه ظاهر شي او اصلي شرکت ته د خپلو خدمتونو صورت حساب ورولېږي بې له دې چې دا خدمتونه ترسره شوي وي. په دې توګه اصلي شرکت د دې خیالي خدمتونو لګښت په خپل حساب کې درجوي چې د ګټې کچه یې کموي او په نتیجه کې له کمې ګټې چې په واقعیت کې کمه ګټه نده مالیه ورکوي.
همدا شان د تورو پیسو د سپینولو په هکله هم بیلګې ښودلای شو. د دې کار له پاره یوه لار د واپس پور یا-Loan Backکړنلار ده. په دې ځای کې اصلي شرکت هغه تورې پیسې چې آف شور شرکت ته یې په غېرمستقیمه توګه ورلېږلې دي، له دې شرکت څخه پور اخلي. په دې توګه له یوې خوا تورې پیسې پر سپینو پیسو بدلېږي او له بلې خوا د اصلي شرکت خاوند خپل آف شور شرکت ته د پور په بدل کې سود هم ورکوي او دا سود د ده د مالیې کچه کموي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

بله لار دا ده چي توري پیسي په لومړي سر کي آف شور شرکت ته لیږدول کیږي یا دا چي د تورو پیسو ترلاسه کونکی د پیسو له ورکونکي غواړي چي پیسي د ده آف شور شرکت ته حواله کړي. په دې شرکت کي په خپل وار دا پیسي څو ځلي لاس پر لاس کیږي. له هغي وروسته د اصلي شرکت خاوند د خپلو پیسو د سپینولو له پاره خپل آف شور شرکت ته د داسي خدمتونو صورت حسابونه ورلیږي چي اجرا شوي ندي. په دې توګه توري پیسي د اصلي شرکت د خاوند لاس ته ورځي، د ده د هیواد د پیسو په بهیر کي شاملیږي او پر سپینو پیسو بدلیږي.
د دې تر څنګه له مالیاتو د تېښتي او د پیسو د مینځلو له پاره نورې زیاتي او پیچلي لارې هم موجودې دي. د بېلګي په توګه کله چي یو پانګوال خپل شرکت پر بهرني پانګوال پلوري، نو له هغه سره داسي یوه ماملله کوي چي د هغي په ترڅ کي د شرکت بیه ټیټه ښودل کیږي او د شرکت پیرودونکی د اصلي بیې او ټیټي بیې تر منځ توپیر د پلورونکي آف شور شرکت ته حواله کوي. د بیې دا برخه بې له دې چي مالیه یې ورکړ شي د پلورونکي په بهرني آف شور شرکت پاته کیږي. په حقیقت کي پیسي په زیاتو حالاتو کي آف شور هیوادونو او ټاپوګانو ته نه انتقالیږي. دا پیسي د پرمختللو هیوادونو په بانکونو کي د آف شور شرکت په حساب کي ساتل کیږي (فوکوس آن لاین مني، ۲۰۱۳).

## له مالیاتو د تېښتي اقتصادي، سیاسي او ټولنیزې پایلي:

په ملي اقتصاد کي، په ځانګړې توګه په پرمختللو هیوادونو کي، د دولتي عایداتو زیاته برخه له مالیاتو ترلاسه کیږي. دولت او حکومت له دې سرچینو څخه په ګټي اخستني خپلي انکشافي او ټولنیزې دندني عملي کوي. هرځومره چي د یوه هیواد د مالیاتي عایداتو کچه لوړه وي په هماغه اندازه زیاتي مالي وسیلي تر لاسه کوي او د دې وسیلو په کارونه کولای شي په اقتصادي او ټولنیزو برخو کي پانګه اچونه وکړي، د تولید او مصرف د ودې لپاره شرایط برابر کاندي او په دې توګه د کار او مشغولا لپاره بنسټونه رامنځته کړي. له همدې امله وېلای شو چي له مالیې تېښته د وګړو د ژوند او د اقتصاد د ودې پر کچه مستقیم اغېز غورځوي.
سره له دې چي تر اوسه څرګنده شوې نده چي آیا د پاناما د سندونو پر بنسټ ترسره شوې معاملې ټولي غېرقانوني دي او له مالیاتو تېښته، د تورو پیسو سپینول او له اقتصادي بندیزونو څخه سرغړونه پکې شوې ده او که نه، یو شمېر سیاستوالو همدا اوس په دې معاملو کي د لاس لرلو له امله په خپلو هیوادونو کي خپل اعتبار تر ډېره حده له لاسه ورکړی دی. ځیني یې له خپلو سیاسي او اداري دندو څخه استعفا کولو ته مجبور شول او ځیني نور هم تر سیاسي او ټولنیز فشار لاندې راغلي دي. په دې ځای کي د آیسلنډ د لومړي وزیر استعفا ته اشاره کولای شو. همدا راز د بریتانیې پر لومړي وزیر هم په دا ډول شرکتونو کي د لاس لرني له کبله سیاسي فشار زیات شوی دی. د دې تر څنګه د اپریل د میاشتي په ۱۵ نېټه د هسپانیې د صنایعو وزیر هم خپله استعفا اعلام کړه. همدا راز د فوټبال د نړیوال فدراسیون قاضی هم په دا ډول معاملو کي د لاس لرني له امله له خپلي دندې استعفا کولو ته مجبور شو.
زما په آند به په راتلونکي کي په دې سندونو کي شامل نور سیاسي، اقتصادي او ټولنیز شخصیتونه هم دې ته مجور شي چي له خپلو دندو استعفا وکړي. په دې توګه وېلاي شو چي دې سندونو په نړیواله کچه یو سیاسي بحران رامنځته کړی دی.
د آف شور د شرکتونو د کار یوه مهمه کړی بانکونه دي چي پانګوالو او شتمنو وګړو ته په آف شور هیوادونو او ټاپوګانو کي د دا ډول شرکتونو تأسیسول شوني کوي. له دې امله به په راتلونکي کي هم پر بانکونو او هم پر هغو هیوادونو او ټاپوګانو چي د مالیاتو د جنت په نامه هم یادیږي فشار زیات شي. د اپریل په ۱۵ نېټه په واشنګټن کي د شلو پرمختللو او درشلیزو هیوادونو G20 د مالیي وزیرانو او مرکزي بانکونو د رئیسانو د غونډې په یوه ګډه اعلامیه کي له مالیاتو د تېښتي او د پیسو له سپینولو د مخنیوي لپاره پر هغو هیوادونو او مرکزونو باندې، په کومو کي چي له مالیاتو د تېښتي لپاره شونتیاوې برابریږي، غږ وکړ چي باید سمدلاسه د مالوماتو د تبادلي په اتوماتیکه پروسه کي ګډون وکړي (هندلز بلټ، ۲۰۱۶).

## پایله:

په دې ځای کي دا پوښتنه رامنځته کیږي چي د دې ستونزې د حل لارې کومي دي؟ په لومړي سر کي باید ووایم چي د دې ستونزې د حلولو له پاره انفرادي لارې چارې وجود نشي لرلای. هیوادونه په ځانګړې توګه پرمختللي هیوادونه باید د دې لانجي د حل له پاره ګډې او نړیوالي لارې چارې ولټوي. په دې اړه یوه ډېره مهمه لار د بانکونو او مالي چارو د څارني او تفتش له پاره د یوه واحد نړیوال سیستم رامنځته کول دي. په دې هکله په تېره کي ځیني ګامونه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

ترسره شوي دي چې يو بې د مالي معاملو په هکله د مالوماتو د تبادلي اتوماتيکه پروسه ده چې همدا اوس کابو سل هېوادونه پکې ګډون لري. دا پروسه له مالياتو د تېښتي لارې محدودوي (د اقتصادي همکاريو او پرمختيا سازمان، ۲۰۱۶).
د پرمختللو هېوادونو په مالي او بانکي سيستمونو کې توپيرونه په ډېرو حالاتو کې له مالياتو څخه د تېښتي لپاره يو ډول قانوني لارې چارې برابروي. هېوادونه په دې اړه له تولو د مخې خپلې ملي ګټې په پام کې نيسي او د نړېوالو حل لارو له رامنځته کولو ډډه کوي. د بېلګې په توګه همدا اوس د اروپا د تولنې په هېوادونو کې د يوه واحد مالياتي سيستم په نشتوالي کې د هېوادونو د مالياتو په ځانګړې توګه د شرکتونو پر ګټو په مالياتو کې زيات توپيرونه موجود دي. په جرمني کې د شرکتونو پر ګټو د مالياتو کچه په سلو کې له ٪۳۰ تر٪۳۳، په فرانسې کې ٪۳۳، په آئېرلند کې ٪۱۲،۵ او په فنلند کې ٪۲۰ ده. په مالياتو کې د دې توپير له مخې نړېوال شرکتونه زيار باسي چې خپل مرکزونه په هغو هېوادونو کې تأسيس کړي چې د مالياتو کچه په کې تيته ده. په دې حالت کې هېوادونه دې ته اړ کېږي چې د مالياتو په کچه کې له يوه او بل سره سيالي وکړي، تر څو شرکتونه او پانګه ځان ته راجلب کړي. که هېوادونه د مالياتو په هکله انفرادي عمل وکړي او د خپلو مالياتو کچه د نورو سيالو هېوادونو په شان تيته نه کړي، نو د دې ګواښ او شونتيا موجوده ده چې پانګه ترينه و وځي او يا تېښته وکړي.
د پانامې سندونو دا بحث هم رامنځته کړی دی چې پرمختللي هېوادونه د اداري او اقتصادي فساد په اړه تل وروسته پاتي او بېوزلي هېوادونه په ګوته کوي او له هغوی غواړي چې په دې لار کې نه ستړې کېدونکي مبارزه وکړي. پوښتنه دا ده چې آيا دا ستونزه يوازې د بېوزلو هېوادونو د ملي اقتصاد يوه پديده او ستونزه ده؟ دا سمه ده چې وروسته پاتي هېوادونه بايد د نورو دندو تر څنګه د خپل ملي اقتصاد د چټکي ودې لپاره د فساد پر وړاندې هم کار او مبارزه وکړي. خو بايد وويل شي چې اداري او اقتصادي فساد يوازې په وروسته پاتي هېوادونو کې نه بلکه په پرمختللو هېوادونو کې هم موجود دی. د ځينو سنجشونو له مخې هر کال د اروپا تولنې ته د اداري فساد له امله کابو ۱۲۰ ميلياړده ډالر تاوان رسېږي (دي ويلت، ۲۰۱۴). په دغو هېوادونو کې په زياتو حالاتو کې لابي ايزم (Lobbyism) هم په غېر مستقيمه توګه د اداري فساد لامل ګرځي.
بايد يادونه وشي چې اداري فساد په وروسته پاتي او پرمختللو هېوادونو کې هم د ماهيت او هم د کميت له مخې له يوه او بل څخه توپير لري. که په دغو هېوادونو کې اداري فساد په عمودي او افقي توګه له يوه او بل سره پرتله کاندو، نو وبه وينو چې اداري فساد په وروسته پاتي او پرمختللو هېوادونو کې هم په افقي او هم په عمودي توګه له يوه او بله توپير لري. په وروسته پاتي هېوادونو کې اداري فساد په کابو تولو دولتي اداراو او ارګانونو او هم د دولتي دندو په تولو پوړو کې موجود دی، په داسې حال کې چې په پرمختللو هېوادونو کې دا ستونزه تر زياته حده د دولتي او سياسي دندو او ادارو په لوړو پوړو کې لېدل کېږي.

اخځليک:


۱-شپيګل آن لاين، هر څه کولای شي خپل يې کړه، ۲۰۱۶،
(Spiegel Online: Nimm was du kriegen kannst)
(په ليکه)، دلته يې وګورئ: http://www.spiegel.de/politik/deutschland/panama-papers-1085279-nimm-was-du-kriegen-kannst-kolumne-a.html
(د لاسرسي نيته: ۱۶/۴/۲۰۱۶)
۲-فوکوس آن لاين مني، کارابيک ته د پيسو بهير، ۲۰۱۳،
(FOCUS Online Money: Geldströme in die Karibik)
(په ليکه)، دلته يې وګورئ: http://www.focus.de/finanzen/news/tid-30555/geldstroeme-in-die-karibik-das-passiert-mit-dem-geld-der-steuerhinterzieher_aid_957280.html
(د لاسرسي نيته: ۱۶/۴/۲۰۱۶)
۳ -د هندلز بلټ ورځپانه، د G20 هېوادونه د مالياتو واحو ته اخطار ورکوي، ۲۰۱۶،
(Handelsblatt: G20-Ländern drohen Steueroasen)
(په ليکه)، دلته يې وګورئ: http://www.handelsblatt.com/politik/international/reaktion-auf-die-panama-papers-g20-laendern-drohen-steueroasen/13456384.html
)د لاسرسي نيته: ۱۶/۴/۲۰۱۶(




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالې د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

۴ -د اقتصادي همکاريو او پرمختيا سازمان ، د مالوماتو اتوماتيکه تبادله، ۲۰۱۴،
(OECD: Automatic Exchange of Information)
(په ليکه), دلته يې وګورئ:
http://www.oecd.org/tax/transparency/automaticexchangeofinformation.htm
(د لاسرسي نيته: ۱۶/۴/۲۰۱۶)
۵ -د دي وېلټ ورځپاڼه، اداري فساد د اروپا لپاره په کال کې ۱۲۰ ميليارد ډالر تماميږي، ۲۰۱۴،
(Die Welt: Korruption kostet Europa 120 Milliarden pro Jahr)

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ